ناظم حکمت
ژباړه: فرهاد ویاړ

۰۷ سپتمبر ۲۰۱۸

## شهیدان

شهیدانو! ای په وینو لت پت د ولسونو بیده شوي شهیدانو!

هغه وخت رارسیدلی چي له خوبه پاڅیږئ.

شهیدانو، ای په وینو لت پت د ولسونو بیده شوي شهیدانو،

ای د «ساکاریا»، «انیونون»، «آنتپ»

په خاورو کي بیده شوو

ای پیاوړو ریښو، ای د وینو لامبوزنانو

پاڅیږئ او وګورئ چي څه ډول غلیمانو ته ښه راغلاست وایي

او څه ډول مونږ په بازارونو کي خرڅوي.

شهیدانو، ای په وینو لت پت د ولسونو بیده شوي شهیدانو

هغه وخت رارسیدلی چي له خوبه راپاڅیږئ او مونږ پاڅوئ!